ليکوال : پوهنوال رسول باوري ۲۰۰۷/۱۲/۱۳م

# په ايران کي د جمشېد تخت او د ايراني څېړونکو تر منځ ناندرې

(( يوه لنډه يادونه:
څه ناڅه يوکال وړاندي مي دا ليکنه د ښکلا مجلې لپاره کړې وه . زما په ويب پاڼه کي هم هغه مهال خپره شوه . اوس چي مي د افغانانو په نامتو ويب پاڼي ( جرمن اونلاين ) کي د ( تخت جمشېد دست اورد تازه ای برای رسوا سازي مبلغين دروغ ) ترسرليک لاندي د ايراني ليکوال ښاغلي ناصرپور پيرار ليکنه په همدې تړاو ولوستل ، وړ مي وګڼل چي يوځل بيا دا ليکنه په همدې جرمن اونلاين پاڼه کي خپرېدلو ته چمتو کړم ، هيله من يم چي لوستونکي ته په زړه پوري وي. ))

د جمشېد تخت د يوه لرغوني اثر په توګه د يونسکو له لوري په ۱۹۷۹ ميلادي کال د نړيوال کلتوري ميراث په ليک لړ کي شامل شو. د ا تاريخي ودانۍ د هخامنشي پاچاهانو پلازمينه او هم د هغه پير د پيژندلو په لار کي تر ټولو ستر لاسوند ګڼل کيږي . د تاريخي ودانيو دا ټولګه يو شمير قصرونه دي چي ۵۱۸ کاله پخوا تر مېلاد د هخامنشي پاچا لومړي داريوش له خوا د بين النهرين د ودانيو سره د رقابت په موخه ودان کړيدي . زيات شمير ايراني مورخين او بهرني ايرانپوهان په دې باور دي چي د ايران هيواد په لرغوني تاريخ کي تر ټولو څرګند او د ايران هيواد لپاره وياړلئ مهال د هخامنشي پاچاهانو پير دئ . خو په دې ورستيو کي د جمشيد تخت او هخامنشي پير په اړه د يوشمير ايراني مورخينو ځانګړي دريځونه دايران لپاره د جمشيد تخت او د هخامنشي پير د ارزښت ، وړتيا او رښتينوالي په اړه شکونه رامنځ ته کړيدي .
پوهنيزي څېړني او پلټني د ټاکلو ارونو په پلي کولوسره علمي پايلي او ګټوري لاسته راوړني وړاندي کولای شي . يوازي د هري پوهي د اړوند و ارونو پلي کول دا توان لري چي هم پوهه د پايښت وړ وګرځوي او هم د څېړنو علمي پايلي وژغوري . پر علمي ارونو او پرنسيپونو د څېړونکو ، ادارو او يا سياسي نظامونو ذهنيت تپل نه يوازي دا چي پوهنيزه څانګه د مړني پر لور بيايې بلکي د تحميلي لاسته راوړني ژغورنه هم نشي تر سره کولای . د همدې اصل پر بنسټ هغه شمير ارزوني او لاسته راوړني چي د پوهنيزو ارونو په رڼا کي نه دي تر سره شوي ، پايښت نه لري او د حالاتو په بدلون سره بدليږي.
په دې ورځو شپو کي د ايران هيواد يوشمير څېړونکي د ايران پر لرغوني تاريخ د نيوکو تر څنګ غواړي د هغه هيواد تاريخي شاليد له سره وارزوي او د نويو ټولنيزو او سياسي حالاتو په بڼه يې ورغوي . د ايران تر نوم لاندي د هغه هيواد د لرغوني تاريخ يوه تر ټولو تبليغ شوې پاڼه د هخامنشيانو تر سر ليک لاندي پيژندل شويده . تر دې مهاله د هخامنشيانو پير د ايران د پخواني تاريخ تر ټولو ستر سرليک ګڼل کېدئ، او يوشمير ايراني مورخينو اوبهرنيو ايرانپوهانو د ايران تاريخ پيل هم د همدې مهاله منلی او عام کړئ دئ . په داسي حال کي چي اوس د يوشمير ايراني څېړونکو له لوري نه يوازي دا چي هغه مهال د ايران د پخواني تاريخ پيل نه مني بلکي د هغه مهال اړوند اثار او لاسته راوړني د ايراني وګړو د وياړ په توګه ستره تير وتنه ګڼي .



عباس سليمي نمين په ايران کي د تاريخي څېړنو د
مرکز رئيس

په ايران کي د تاريخي څېړنو د مرکز رئيس ښاغلئ عباس سليمي نمين د جمشيد تخت د ايراني کلتور بيلګه نه بلکي د روسي کلتور لاسته راوړنه بولي . په هغو مرکو او ليکنو کي چي د نوموړي له لوري خپاره شوي ، يو شمير داسي لاسوندونه وړاندي شوي چي په اوسني ايران کي د چسپ او جذب شونتياوي لري او په ځانګړي توګه د اوسنيوواکمنود منلو وړ دي. په داسي حال کي چي د ايران زيات شمير مورخين او يو زيات شمير بهرني ايرانپوهان په دې باور دي چي د جمشېد تخت د هخامنشيانو د پير ستره لاسته راوړنه ده چي د ايراني وګړو رښتنی ميراث دئ.د جمشېد تخت په اړه د عباس سليمي نمين دريځ د بيلا بيلو لاسوندونوپر بنسټ چي خپله يې په مرکو او ليکنو کي

وړاندي كوي دادی چي : دا د يوشمير بهرنيو څېړونكو له لوري د هغو څېړنو او پلټونو غولونكي پايلي دي چي يهوديت سره د ايران پخوانی او لرغوني دښمني پېته كړي . نوموړي په خپله يوه خبره شوې مركه ويلي چي :
((...اين‌ها همگي مستندات دارد; تاريخ‌نگاري در دوران پهلوي اول به نوعي صورت گرفت كه در دشمن‌شناسي ايراني‌ها اشكال به‌وجود آمد; يعني باعث شد دشمن خود را دوست بداريم و ندانيم دشمنان ما كيستند; و اين به‌خاطر تحريف تاريخ‌نگاري باستاني رخ داد.تاريخ به‌گونه‌اي نوشته شد كه گويي اسلام با قتل‌عام وفرهنگ‌سوزي وارد ايران شده; در صورتي‌كه اين خلاف واقع است و قتل‌عام قبل از ورود اسلام به ايران توسط «استر و موردهاي» دو نفر يهودي در فلات ايران رخ داده است.
اين اتفاقات به اطلاع مردم نمي رسد تا عداوت و كينه نسبت به اعراب در دل مردم جاي گيرد در صورتي‌كه اعراب هم مثل ما تحت سلطه هستند و آمريكا و اسراييل با ايجاد تفرقه بين ما مي‌خواهد بر هر دو ملت تسلط داشته باشد. ))
نوموړي په هغه غونډه كي چي د جمشېد تخت د رښتني څرک په اړه را بلل شوی وه د خپلو خبرو په ترڅ كي زياته كړه چي : (( آمريكايي ها آن چه در مورد تمدن ما ايراني ها مي دانند را از كجا ياد گرفته اند كه ما امروز بايد خود را مديون عملكرد و تحقيقات آنها بدانيم؟ نه تنها مديون بدانيم بلكه بگوييم اگر آنها نبودند ما نمي توانستيم بر تمدن خود اشراف داشته باشيم . نه تنها نمي پذيرم بلكه با توجه به ساير عملكرد آنها نه تنها خود را مديون آنها نمي دانم بلكه آنها را در زمينه تغيير اساسي در تاريخ مان مقصر و مجرم مي دانم ))



داكتر پرويز رجبي

په داسي حال كي چي په همدې غونډي كي ناست دكتر ارفعي ، پرويز رجبي اونور ايران پوهان په پر له پسي توګه خپل دا باور په ډاګه كوي چي ، د لرغوني ايران په اړه زيات مالومات د هغو امريكايي لرغونپوهانو په زيار وړاندي شوي او تدوين شويدي چي په لسګونو كاله يې د ايران په بيلا بيلو سيمو كي پر له پسي څېړني تر سره كړيدي. (( بله آقا اين كه شما مي‌گوييد دزديده‌اند درست است. الان تعداد زيادي از آثار ايران كه در موزه‌هاي دنيا نگهداري مي‌شوند؛ توسط همين مستشرق‌ها به خارج از ايران برده‌شده است. اما آن چه پاسداشته شده خيلي بيشتر از اين‌ها است. درست است مادام ديولافوا در خاطراتش مي‌نويسد كه در شوش هر چه توانسته برده و هرچه را نتوانسته خراب كرده است. يک ستون دو متري را با پتک شكسته است. اما همه اين گونه نيستند. ما هيچ وقت اجازه نمي‌دهيم كه ميراث مان را از ميان ببرند. اما بايد ببينم كه غربي‌هاي دلسوز هم با تاريخ ما چه كرده‌اند. آقاي سليمي به خدا اگر غربي‌ها خط ميخي ما و حتي خط پهلوي را كه بيشتر متن‌هاي ما به پهلوي نوشته شده است را تا ۷۰۰ هجري است را نخوانده بودند، ما قادر نبوديم آن‌ها را بخوانيم. حتي بسياري از متون فارسي و عربي ما را كساني چون بروكلمان خوانده است. حتي مولوي ما را غربي‌ها بيشتر از ما مي شناسند. قدر نشناس نباشيم. آن‌ها به ما بد كردند ما را غارت كردند اما خدمت هم كردند. ))





د نانډره ايزي غونډي دوه انځوره

دا لومړی ځل نه دئ چي يوشمير ايراني څېړونكي د واكمني فضا تر سيوري لاندي د خپلو څېړونو لوری بدلوي او د خپلو واكمنو د خوشالئ لپاره د علمي څېړنو پايلي هغسي څرګندوي چي د هغوئ واكمنان يې غواړي . اوس د ايران

واکمن د اسلامي دولت تر سر ليک لاندي د خپل بهرني سياست د پلي کېدو په نيت، غواړي د اسرائيلو سره د ښمني د سياست څخه تاريخ ته ورسوي اوپه تاريخ کي هم هغه لاسوندونه او مدارک ولټوي چي د اسر ائېلو او ايران دښمني څرگنده کړل شي، او په دي ډول د ايران تاريخ ته هم په خپله خوښه نوي څيره او رنگ ورکړي. همدي موخي ته د رسېدلو په نيت يي يوشمير څيرونکي هم هڅولي دي . په داسي حال کي چي پرون بيا په ايران کي د تير نظام غوښتنه دا وه چي د هر گاوندي هيوادکلتوري او هنري وياړني او ارزښتونه په يوه يا بله بهانه د جعلي لاسوندونو په وړاندي کولو سره په خپل ځان پوري و تړي ، د فردوسي ، انوري او مولوي څخه نېولي بيا تر سنايي ، انصاري او سيد جمالدين افغاني او نورو پوري ټول ستر تاريخي شخصيتونه يي د اوسني ايران بلل . چي د ا مطلب دزياتو توضيحاتو پرته درنو لوستونکو ته څرگند دئ.

د دي ليکني د يوې پايلي په توگه دا يادول اړين گنم چي د علمي او پوهنيزو څيرونو په لار کي هر ډول شخصي اراده او غير علمي کړنه د څيړنو لورئ بدلوي او د تحميلي څيړنو پايلي به د ځانگړو سياسي، اقتصادي او ذهني شرايطو لاندي پر له پسي اوړي را اوړي . د څيړنو په ترڅ کي دا ډول اوښتونکي پايلي له يوې خوا علمي ارونو ته زيان رسوي او له بلي خوا د اولس باور له منځه وړي. له بده مرغه يوشمير ايراني څيرونکي کله د داسي خودخواهئ په مرض اخته شي چي د نړئ هر وياړ خپل گڼي او کله يي بيا هغه ناروغي لمن ونيسي چي په ايران کي شته اثار دخپل وياړ په توگه نه مني . دا دواړه حالتونه دپوهنيزو څيړنو په ترڅ کي د علمي ارونو او پر نسپيونو څخه د سرکښي نتيجه ده .

پای